# دمیراث حقوق



هسک پامیر ښونیز مرکز

ترتیب: محمدالرحمن(وصال)

# دمیراث علم اساسات

**دمیراث تعریف:** میراث هغه علم ده چې دهغه په واسیله میت(مړي)متروکې(مال)څخه دهر وارث حقوق پېژندل کیږي.

**میراث موضـــــــوع:** دمیت(مړي)متروکه ده.

**میراث عـــــــــرض:** د دې علم عرض په متروکه کې دمستحیقینو حقوقو پېژندل دي.

**دمیراث علم غوره والی:** رسول الله (ص) دمیراث علم ته نیم علم ویلي دي**«تَعَلَّمُوا الْفَرَایِضَ وَعَلِّمُوه فَاِنَّهُ نَصْفُ الْعِلْمِ»**

**دمیراث ارکان:**

میراث درې ارکان لري؛(۱)مورث(۲)وارث(۳)موروث

**مورِث:** هغه مړی چې مال یا حق پرېږدي.

**وارث:** دمیراث مستحیق.

**موروث:** پاتې مال (متروکه)

**دمیراث شرطونه:**

**(۱)** د مورِث مړینه

**(۲)** د وارث ژوند ورسته د مورث له مړینې څخه.

**متروکه پاتې مال:**

څلور حقوق لري »۱ :دمړي تکفین۲: دمړي پورونه۳: دمړي وصیت۴: دوارثانو حق

**ذوي الفروض**(دفرض خاوندان):هغه کسان چې په قرانکریم کې ټاکلې برخه ولري.

**عصبه**:هغه خپلوان چې دپلار له لورې نسبت کیږي او دزوي الفروضو څخه پاتې مال وړونکي دي.

**ذوی الارحام**:ذوی الفروض او عصبه نه وي، لکه ماما

**موصی له**:چې ټول مال ورته وصیت شوي وي .

**بیت المال**:دپورته وارثانو څخه یو هم نه وي نو بیت المال ته ورکول کیږي.

← دنارینه اولاد برخه دښځیه اولاد دوه برابره ده.

# ذوی الفروض

پلار او مور برخه





## دپلار (۳)

شپږمه:مړی چې زوی یا د زوي زو ولري.

شپږمه او عصبه:که پلار سره دمړی لور یا دمړی د زوی لور وي.


عصبه:کله چې مړی اولاد ونه لري.

## د مور

شپږمه:مړی چې اولاد ولري.

دريمه:مړی چې اولاد ونه لري.


شپږمه:مړی چې ورونه یا خوینديې ولري.



# ذوى الفروض



زوي او لور برخه



## زوي

دنارينه برخه دښځه اولاد په پرتله دوه برابره ده



## لور

نيمايي:که لور يو وي.


دوه ورييمه:که لور ديوې څخه زياته وي.

که د لونو پر ځاي ځانته خور يا خويندې وى همدا برخې ورکول کيږي.

# ذوی الفروض

## میړه او ښځې برخه

**میړه**



نیمايي:دښځې اولاد نه وي.


څلورمه:دښځې اولاد وي.

**ښځه**



اتمه:که دمیړه اولاد نه وي

څلورمه :که دمیړه اولاد وي.




د زوي الفروض لپاره په قرانکریم کې شپږ برخې بیان شوي.

1. نصف (نیـــمه) (١/٢)
2. ربع (څلورمه) (١/٤)
3. ثمن (اتـــمه) (١/٨)
4. ثلثان (دوه دریمه) (٢/٣)
5. ثلث (دریمـــه) (١/٣)
6. سدس (شپږمه) (١/٦)

1. لومړی ډول: نصف، ثمن، ربع

2. دوهم ډول:ثلث،ثلثان،سدس

**یادونه**:دمعلومو برخو خاوندان ۱۲ کسان دي څلور نارینه اته ښځینه دي.

## عصبات

**1.** دمړي فـــــروع:زامن که څه هم ترې راکښته وي .

**2.** دمړي اصــــــل:پلار که څه هم ترې راکښته وي.

**3.** دمړي دپلار جزء:ورونه که څه هم ترې راکښته وي.

**4.** دمړي د نیکه جزء: کاکا زامن که څه هم ترې راکښته وي.

که له مړي څخه داسې عصبعه پاتې شي چې په مرتبه او درجه کې سره برابر وي .قرابت (نژدې والي)قوت لري.مثلاً:-علاتي ورونه داعیاني ورونو دموجدیت په صورت کې دمیراث څخه محروم دي،ځکه اعیاني قرابت دعلاتي نه قوي دی.

I. **حجب**:حجب په لغت کې منع ته وايي او په اصطلاح کې دې ته وايي چې یو معین شخص دبل معین شحص دموجدیت له کبله د ټول یا یوې برخې څخه محروم شي.

**حجب په دوه ډوله ده**:

**1.** نقصان حجب:یو څوک دیو چا په موجدیت کې په جزي توګه له میراث څخه محروم شي.

**2.** حرمان حجب: یو څوک دیو چا په موجدیت کې په بشپړه توګه له میراث څخه محروم شي.

دحرمان حجب په نسبت ورثه دوې ډلې دي.یو یې هیڅ حجب خرمان نه قبلوي او لاندې شپږ کسان دي.

هغه کسان چې دحرمان حجب نه قبلوي.

- زوي
- پلار
- میره
- لور
- مور
- ښځه

← **له دي پرته نور وارثان په يو حالت کې مستحق او په بل حالت کې محروم ګڼل کېږي.**

II. **عول**:عول په لغت کې ميلان او ظلم ته وايي اصطلاح کې عول دې ته وايي چې د سهمونو برخه دمخرج په اندازه زياتات شي.لومړي ځل لپاره (حضرت عمر په عول حکم کړی ده)

III. **تصحيح**:تصحيح له صحت څخه اخيستل شوي ده روغ والي ته وايي او په اصطلاح کې د وړوکي عدد نه دبرخو اخيستل په داسې شان چې دمستحقينو په برخه کې کسر واقيع نه شي.

IV. **تخارج**:تخارج له خروج نه اخيستل شوي دی د واريثانو تر منځ سوله يعنی يو شخص ديو معين شي په اخيستلو سره ځان له ميراث څخه وباسي او خپله برخه نورو ته پريږدي.

V. **رد**:رد په لغت کې رجوع او بېرته ګرځيدلو ته وايي او په اصطلاح کې دعصبه دنشتوالي په صورت کې ذوي الفروض ته متروکه کې پاتې برخه ورکول ته رد وايي.

---

## د عدد ترمنځ (تماثل، تداخل، توافق، تباين)

---

1. **تماثل**:دوه يا زياتو عددونو ترمنځ نسبت ويل کېږي (مساوي عدد)لکه:5/5 6/6 7/7 4/4 3/3 .......
2. **تداخل**:داعدادو ترمنځ داسې نسبت چې يو بل کې داخل وي لکه: 2او 4 3او6 هغه عدد چې وړوکی په لوي تقسيم شی لکه 7په 21پوره تقسيمېږي.
3. **توافق**:د عددونو ترمځ داسې نسبت چې که يو عدد بل ته متوجه کړی شي هغه نه محوه کي ليکن دريم عددهغه دواړه محوه کوي لکه 8 او 20 .
4. **تباين** :دوه عددونو تر منځ هغه نسبت ته وايي چې يو بل نه محوه کوي اوو دريم عدد يې نه شي محوه کولي لکه:9 او 20 .

## فعاليت

1.دلاندي عددونو تر منځ نسبت پيدا کړئ؟

[2،2/7،7/26،8/6،11/20،5]

2.تصحيح تعريف کړئ؟

3.عول باندې دلومړي ځل لپاره چا حکم په وکړ؟

الف:عمر ب:علي ج:عثمان د:هيڅ يو

4.نصب ،ربع او ثلث خاوندان څوک دي؟

5.ذوي الفروضو لپاره په قرانکريم کې څو برخې ټاکل شوي دي؟

6.يو خور چې ځانته وي څومره برخه وړي؟

7.ربع څو ته وايي؟

الف:څلورمه ب:اتمه ج: شپږمه د:الف سم ده

8.سدس څو ته وايي؟

الف: $^1/_3$ ب: $^1/_4$ ج: $^1/_6$ د: $^6/_1$

**په دوعاګانو کې مو ياد ساتی**!!!!!!!!!!